**سوال:** بخښنه غواړم يوه خبره کووم: د بعضې خلقو دا ذهن دے چې هغوئي خپل ځان نه بدلوي او په زور حالت باندې روان وي. بيا نظام دوئي د لږ وخت د پاره برداشت کوي آخر دا چې دوئي اُووِيستلے شي. د امير اهلسنت ته عرض دے چې که په ژوند کښې داسې خلقو سره زمونږ تعلق وي، اګر که هغه زمونږه مور پلار وي يا زمونږه ملازمان وي کوم چې خپل ځان هډو بدلول نه غواړي نو آيا مونږ له هغوئي د نظام نه بيلول پکار دي يا هغوئي هم په نظام کښې ساتل پکار دي؟

**جواب:** مونږ ته د بدليدلو ضرورت ولې راپيښيږي، په دې باره کښې يو اُصول ياد ساتئ چې "د عوامو د نفرت نه بچ کيدل پکار دي" ځکه په داسې صورت کښې بعضې وخت مستحب هم پريښودلے شي بلکه بعضې داسې سنت دي په کومو چې اوس عمل نشي کيدے مثلاً د خوږ آقا صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم زياتره د دوو ځادرو جامې وې. اوس که څوک دوه ځادرې واغوندي او ګرځي نو په دې باندې به خلق نه پوهيږي. په فتاویٰ رضويه کښې په عمامه کښې د شملې ساتلو او نه ساتلو مثال هم ورکړے شوے دے. (4) دغه شان سرکارِ مدينه صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم هميشه تهبند [يعنې لنګ مبارک] استعمال کړے دے "او هغه به ئې تر نيمې پنډۍ پورې ساتلو." (الشمائل المحمدية، ص:85، حديث:114) پاجامه کومه چې سرکارِ عالي وقار صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم خوښه کړې ده خو اچولې

---

(4)... د عمامے شمله پريښودل يقيناً چې سنت ده خو چرته چې جاهلان په دې پسې خاندي هلته علمائے متاخرين د لـمونځ کولو نه غير د دې نه بچ کيدل اختيار کړل د کومې مقصد چې هم هغه حفظِ دِينِ عوام دے. شيخ محقق مولانا مُحدث دهلوي رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ په رساله "آدابِ لباس" کښې فرمائي: د فُقَهاء سره د شملې په پريښودو باندې ډير د قياس دليلونه موجود دي او هغوئي دا سنتِ مؤکده ګڼي خو علمائے متاخرين، د زمانې د جاهلانو د پيغورونو او توقو مسخرو نه د بچ کيدو د پاره صرف د پينځه وخته لـمونځ نه علاوه شمله نه پريږدي. (فتاویٰ رضويه، 12/314)

ئې نه ده بيا هم پاجامه اچول سنت دي ځکه چې دا د قولي سنت نه ثابته ده. (5) اوس پرتوګ تر نيمې پنډۍ پورې بره ساتلو ته اعلیٰ حضرت امام احمد رضا خان رحمۃ اللہ علیہ عزيمت ليکلے دے چې که په دې دور کښې پرتوګ تر نيمې پنډۍ پورې بره اوساتلے شي نو خلق به خبرې جوړوي. چې پرتوګ د ګِيټو [پړکو] نه بره ساتلو سره سنت ادا کيږي نو بيا دې هم دا اختيار کړے شي. (فتاویٰ رضويه، 162158/22 ملتقطاً) د وخت په حساب سره په بعضې صورتونو کښې داسې کيږي مثلاً ګيرې پريښودو ته به هم نَعُوذُ بِالله! خلق بد وائي خو ګيره پريښودل به لا زمي وي. که څوک وائي چې د ګيرې نه خلق نفرت کوي، په خلقو کښې نفرت پيدا کيږي ځکه ګيره مه پريږدۍ نو داسې به نه کيږي ځکه چې د ګيرې پريښودو حکم موجود دے او مونږ د شريعت د حکم پابند يو. البته چې په کوم ځائے کښې رعايت وي هلته رعايت قبلولے شو او چرته چې رعايت نشته نو که دنيا د يو خوا نه بل خوا شي هُم نو مونږ به هغه رعايت نه قبلوو که په څه مسئله باندې رعايت نه وو او د خپلې جوړې کړے شوې مجبورۍ په وجه هغه کار چا پريښوو هم نو مونږ به هغې ته غلط وايو. او که د يو عمل په پريښودو کښې د ګناه صورت وي نو د هغې په پريښودو به ګناه ميلاويږي خو که شرعي مجبوري وي نو ګناه به نه وي، د مثال په طور که چا د وَسلې په زور اووئيل چې په خپل لاس خپله ګيره اُوخريه ګنې په دې سر دې وَلم، که هغه پوهيږي چې دا ټوقې نه کوي واقعي هم داسې به اوکړي نو بيا به د هغه د پاره په خپل لاس خپله ګيره خرئيل جائز شي او هغه به ګنهګار هُم نه وي ځکه چې دلته د هغه ژوند ختميدو، خو دا قِسمه موقعې ډيرې کمې پيښيږي. بهر حال مونږ مسلمانان يو او د **الله** پاک او د رسولِ کريم صلی اللہ علیہ والہ

---

5... په حديثِ پاک کښې دي: رسول الله صلی اللہ علیہ والہ وسلم ارشاد اوفرمائيلو: پاجامه اچوئ او تهبند تړئ او د يهودو او نصاریٰ خلاف کوئ بريت تراشئ او ګيرې [يو مُوټے] لوئے کړئ، د يهودو او نصاریٰ خلاف کوئ. (مسند امام احمد، 300/8، حديث: 22346)

وَسَلَّم د حکمونو پابند یو، چرته چې رعایتونه میلاو شوي دي هلته به ئې قبلوو او چرته چې رعایتونه نشته نو د هغه رعایتونو نشتوالے به هم قبلوو.

په زوړ طرز پورې د نښتونکو شمیره ډېره کمه ده، ما خوک په زوړ موبائل فون استعمالولو پورې نښتے نه دے لیدلے. د زیات عمر خلق په زوړ موبائل فون استعمالولو باندې مجبور وي چې د هغوئې عمر ډېر وي، که دوئې سمارټ موبائل فون واخلي هُم نو په هغې به څه کوي، هغوئې په دې باندې هډو پوهیږي نه ځکه چې سمارټ موبائل فون یوه نوې ټیکنالوجي ده. ځلمي به زوړ موبائل فون ځکه استعمالوي چې د سمارټ فون اخستو د پاره به د هغوئې سره پیسے نه وي. که یو کَس پائلټ دے، هوائي جاز الوځوي، تاسو هغه ته اووائیئ چې ته په آس سورلئ کوه، نو هغه به په آس باندې سورلئ ځنګه کوي، هغه خو په آس باندې سورلئ کولے نه شي، ځکه [د هر څیز] خپل خپل فرق دے او ما دا مثال په فون باندې ورکړو. دغه شان بعضې وخت خلق په خپل رسم او رواج پورې اُونښلي نو چې کوم رسم او رواج د شریعت خلاف نه وي هغه کولے شي. بهر حال جدید ټیکنالوجئ که یو خوا مونږ له ډېرې فائدے راکړې دي نو بل خوا ئې غیر معمولي نقصانونه هم راکړي دي. (ملفوظاتِ امیر اہل سنت، 283/6)

**سوال:** په سائنسي لحاظ سره د وَنو بوټو نالولو څه فائدے بیان کړئ. (6)

**جواب:** د سائنسي تحقیق مطابق هم د ونو بوټو نالولو ډېرې فائدے دي. وني او بوټي کاربن ډائي آکسائیډ اخلي او آکسیجن ورکوي. آکسیجن د انساني ژوند د پاره ډېر ضروري دے، د دې نه بغیر انسان ژوندے نه شي پاتې کیدے. اللّٰه پاک وَني او بوټي د انسان د خدمت د پاره پیدا کړي دي، دا زمونږ ګنده هوا اخلي او خپله پاکه هوا راکوي. وني او بوټي درجهٔ حرارت زیاتیدو ته نه پریږدي او د ګرمئ نه بچ کول کوي.

---

6... دا سوال د شعبه ملفوظاتِ امیرِ اهلِ سُنَّت له خوا شوے دے او جواب د امیرِ اهلِ سُنَّت دامت برکاتہم العالیہ له خوا ورکړے شوے دے.

په فضائي آلودګئ کښې کمے راولي، يعني د ګاډو لوګے او دوړه چې کومه الوځي ونې او بوټي په دې کښې کمے راولي. که ونې او بوټي زيات وي نو ماحول به يخ او ښکلے شي، د بجلئ به هم بچت کيږي ځکه چې کومې آلے د ګرمئ لرې کولو د پاره استعماليږي د ماحول د يخوالي له وجهې به د هغې په ضرورت کښې کمے راشي يا به بالکل د هغې نه خلاصے ملاو شي. که تاسو خپل ملک په ونو او بوټو باندې ښکلے کړئ نو اِنْ شَآءَاللّٰهُ الْکَرِيم! د بجلئ بچت به هُم کيږي. وَنې د لينډ سلائيډنګ (يعني د خاورې يا ختې راغورځيدو) د پاره هم رُکاوټ دي ځکه چې د ونو جرړې د زمکې خاوره نيولې ساتي د کومې په وجه چې د زمکې شليدل يا لينډ سلائيډنګ نه کيږي ځکه که د ونو حفاظت اوکړے شي او دا ډيرې کړے شي نو د لينډ سلائيډنګ نه د بچ کيدو ذريعه هم جوړيدے شي. ونې او بوټي په ”ګلوبل وارمنګ“ کښې د کمې سبب هم دے. په عالمي ماحول کښې د خطرناک حده پورې د درجۀ حرارت زياتوالي ته ”ګلوبل وارمنګ“ وئيلے شي، د دې په وجوهاتو کښې د وَنو کټ کيدل، د صنعتونو په تيزئ سره قائميدل او د ګاډو بے دريغه لوګے شامل دے. (ملفوظات امير اہل سنت، 104/1)

**سوال:** لکه څنګه چې د لـمونځ په وختونو کښې سائنس زمونږ مرسته کوي او مونږ چې چرته هم يُو د هغه ځائے د لـمونځ د وختونو نه ځان خبرولے شو، آيا هم داسې مونږ د سائنس په مرسته د ټول کال د مياشت حساب هم لګولے شو؟

**جواب:** د لـمونځ د وختونو معلومول د سائنس دانانو په کهاته کښې اچول نه دي پکار، د دې تعلق د توقيت د علم سره دے، په دې باندې لويو لويو علمائے کرامو رَحِمَهُمُ اللّٰهِ عَلَيْهِم کار کړے دے، ځکه د لـمونځ د وختونو ترکيب به د سائنس سره نه بلکه د علمائے کرامو رَحِمَهُمُ اللّٰهِ عَلَيْهِم په راهنمائيئ سره کيږي. د توقيت عِلم يو عِلم دے کوم چې د مفتي د پاره د ضروري علومو نه دے. پاتې شوه خبره د مياشت د حساب لګولو نو د دې تعلق نۀ خو د سائنسي تحقيق سره دے او نۀ د توقيت د علم سره چې ټول کال په يو ځائے حساب اوکړے شي بلکه د دې تعلق د رُؤيتِ هِلال (يعنې د مياشت د ليدلو

سره دے. د ډېرو شرعي حکمونو بنياد په مياشت ليدلو باندې دے مثلاً د رَمَضَانُ الْمُبَارَک روژے، د حج مناسِک، د وړوکي اختر او د غټ اختر وغيره حساب د مياشت په ليدلو باندې کولے شي. بعضې توقيت دانان په دې معامله کښې پيشن ګوئي کوي چې په فلانکي تاريخ به مياشت ليدلے شي نو د هغوئي د دې پيشن ګوئيئ څه اعتبار نشته بلکه د مياشت د ليدو اعتبار دے، کله چې د شرعي ثبوت سره د مياشت ليدل ثابت شي نو مياشت شروع کيدل به منلے شي. (ملفوظات امیر اہل سنت، 172/1)

**سوال:** د وخت تيريدو سره سره چې څنګه تعليمي نظام ترقي کړې ده، هُم داسې ټيکنالوجئ هم زمونږ په سوسائټي کښې خپل ځائے جوړ کړے دے. ځلمے نسل خاص طور طالب علمان په دې بيمارئ کښې زيات اخته ښکاري. مهرباني اوکړئ دا راهنمائي اوفرمائے چې د دې استعمال څنګه محدود کيدے شي؟

**جواب:** د جديد ټيکنالوجئ استعمال ښه هم دے او بد هم، خو زمونږ په معاشره کښې د دې ښه استعمال کم او بد استعمال زيات کيږي. اوس چې څنګه مدني چينل د دې ښه استعمال کوي او د ګناهونو نه ډکې چينلې د دې بد استعمال کوي. دغه شان په خلقو کښې هم بعضې خلق د دې ښه استعمال کوي او بعضې د دې په ذريعه ګناهونه کوي. مونږه په عوامو انټرنيټ او سوشل ميډيا خو پريښودلے نه شو، البته دا ترغيب ضرور ورکولے شو چې دا داسې استعمالوي چې د آخرت د پاره فائده مند وي، مثلاً د مدني چينل يا د دعوتِ اسلامي د سوشل ميډيا مجلس له خوا چې کوم کلپس راځي، تاسو دا ګورئ او وړاندې ئې شيئر کوئ. دغه شان مدني چينل هم ګورئ ځکه چې دا هم يوه ټيکنالوجي ده کومې ته چې اليکټرونک ميډيا وئيلے شي. دا بيله خبره ده چې د نيټ او سوشل ميډيا د راتلو نه پس اوس د چينلو په لور د خلقو رغبت کم شوے دے. په سوشل ميډيا کښې اوس ډيرې شعبے جوړې شوې دي او نورې نوې نوې شعبے جوړيږي. په دې کښې هم بعضې زاړه څيزونه اوس وروستو پاتې کيږي او

[محاوره ده] ”کُلُّ جَدِیْدٍ لَذِیذٌ یعنې هر نوے څيز خوندور وي“ نو خلق په نوو څيزونو کښې مصروفه شوي دي او مخ په وړاندې روان دي.

## د سوشل ميډيا په وجه د پوهانو د کمي سره مخ کيدل

الله پاک دې رحم اوکړي ځکې څنګه چې هر يو ګس په انټرنيټ او سوشل ميډيا کښې مصروف دے نو وړاندې په هر يو فيلډ کښې اُمَّت د پوهانو د کمي سره مخ کيدے شي. ښه ډاکټران، سائنس دانان، تحقيق کوونکي، مفکرين، دانشوران، ښه علمائے کرام او مفتيانِ کرام آئنده کيدے شي چې نه به پيدا کيږي، ځکه چې د طالب علمانو ښه دماغ اوس په سوشل ميډيا کښې د مصروفه کيدو په وجه ضائع کيږي. د علمائے کرامو او مشائخو او د دوئي د طالب علمانو او مريدانو هم يوه لويه شميره په دې کار کښې مصروفه ده. اوس نه د پير صاحب سره وخت شته چې د مريدانو اصلاح اوکړي او نه د مريدانو سره وخت شته چې د پير صاحب دربار ته لاړ شي او څه فيض حاصل کړي. داسې کڼ شمير عالمان خپل وخت په سوشل ميډيا کښې تيروي، حالانکه عالمانو او مفتيانو ته مسلسل د لوستلو [مطالعے کولو] ضرورت وي، که دوئي د مطالعے نه لرې شان هم وروستو شي نو په دوئي کښې علمي کمزوري راتلل شروع شي. هم دغه وجه ده چې کوم ښه او ماهر عالمان او مفتيان وي نو هغوئي سوشل ميډيا له وخت نه ورکوي بلکه هغوئي د دې ويرې نه ځان ساتي چې که دې له مو لاس ورورړ نو بيا به ترې نه خلاصيږو، که ګوته مو په لاس کښې ورکړه نو لاس به رانه اونيسي او بيا به علمي مشغلې جاري ساتل مشکل وي.

## په عوامو باندې د سوشل ميډيا حمله

په عوامو کښې چې کوم خلق په سوشل ميډيا کښې مصروف اوسي نو هغوئي دې غور اوکړي چې د دې په وجه ئې نهٔ لمونځ ته ډيرې لګي، نه ورته د تلاوت او اورادو او وظائفو د پاره وخت ميلاويږي. خلق مجبوراً خو د نوکرئ د پاره ځي خو د کار په وخت

هم په سوشل میډیا کښې مشغول وي. د دې په وجه پیښې [حادثې] هم رامخې ته کیږي چې له وجهې ئې د خلقو ژوند ضائع کیږي. د چا چې د سیکورټي نوکري وي نو هغوئي هم د ډیوټۍ په وخت په سوشل میډیا کښې مشغول وي. د ډیوټۍ په دوران کښې د سیکورټۍ په ډیوټۍ باندې د موجودو کسانو د موبائل استعمالولو رجحان ما په یو ترقي یافته ملک کښې هم لیدلے دے. هم دغه وجه ده چې په ډیرو ادارو کښې د ملازمانو نه د ډیوټۍ په وخت موبائل فون واخلي او جمع ئې کړي. بهر حال که چرې تاسو څه جوړیدل غواړئ نو د دې سوشل میډیا او انټرنیټ نه ځان خلاص کړئ او ځان د الله پاک په عبادت کښې مشغول کړئ هُم دا زمونږه دنیا ته د راتللو مقصد دے، لکه څنګه چې د ووه ویشتمې سیپارے په سورۃُالذّٰرِیٰت آیت نمبر 56 کښې الله پاک ارشاد فرمائیلے دے:

وَ مَا خَلَقْتُ الْجِنَّ وَ الْاِنْسَ اِلَّا لِیَعْبُدُوْنِ ﴿۵۶﴾ ترجمۂ کنز العرفان: ”او ما پیریان او انسانان هُم د دې د پاره پیدا کړي دي چې زما عبادت کوي.“

خو د بدقسمتۍ له وجهې اوس [خلقو ته] د لمونځ کولو موقع نه میلاویږي او که چې ورته موقع میلاو شي نو بدن ئې په لمانځه کښې وي او زړه او دماغ ئې په سوشل میډیا کښې غوټې وهي. جُمات ته د داخلیدو نه پس موبائل فون نه بندوي، د لمونځ په وخت هم په فون باندې رِنګ راروان وي او د خلقو په لمونځ کښې خلل پیدا کیږي. کیدے شي چې په بعضې ځایونو کښې مشران په غُصه کښې راځي او بیا په جُماتو کښې ښه شور او ځوګ جوړیږي. الله پاک دې زمونږ په حال باندې رحم اوکړي چې مونږ د سوشل میډیا استعمال 100 فیصده په جائزه طریقه کوو. کاش! چې مونږ داسې جوړ شو چې زمونږ له خوا نه خو د الله پاک په حقونو کښې کمے راشي او نه زمونږ د لاسه د بندګانو حقونه اُووهلے شي. الله پاک دې مونږه د دې فضولیاتو نه اوساتي او د دیني کتابونو په لوستلو او د علمِ دین په حاصلولو کښې مو دې مشغول کړي.

اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم (ملفوظات امیر اہل سنت، 341/1)

سوال: آیا د سوشل میډیا د استعمال د پاره د وخت خاص کولو په ذریعه د دې په نقصانونو کښې کمے راوستے کیدے شي؟

جواب: د سوشل میډیا د پاره د وخت خاص کولو په ذریعه د زیات استعمال له وجهې په کیدونکو نقصانونو کښې کمے راوستے کیدے شي. پوهه او هوښیاران خلق هم داسې کوي مثلاً د مازدیګر او د ماښام ترمینځه یا د ماسخُتن د لـمونځ نه پس یا چا ته چې کوم وخت میلاویږي نو هغوئي څه وخت سوشل میډیا استعمالوي، خو داسې به هغوئي کوي څوک چې په دیني او دنیائي لحاظ سره زیات مصروف وي. د عامو خلقو داسې کول مشکل دي ځکه چې هر وخت زړه خاربښتیږي او ناقلارې شان وي چې اوګورم چې د چا پیغام راغلے دے؟ که د لـمونځ د پاره څوک په پخه اراده روان شو خو یو دم په موبائل فون رِنګ راغلے او یا د چا آډیو پیغام یا پوسټ راغلے. که د چا عام ګس وي نو صبر به اوکړي چې څه وروستو به ئې اوګورم خو که د چا خاص ګس پیغام یا پوسټ وي نو بیا به ئې دا خامخا ګوري یا به د هغه آډیو پیغام په اوریدو کښې مشغول شي او دغه وخت به ترینه جَمعه [لاړه شي] بلکه د بعضو نه به معاذ الله لـمونځونه هم قضا کیږي. (ملفوظاتِ امیرِ اہلِ سنت، 343/1)

سوال: وائي چې: ”د بارانونو په وجه چې کله بریښنا کیږي نو په دې موقع باندې د خپلو کورونو لائټونه بندول پکار دي، ځکه چې دا تندر په هغه کور باندې راپریوځي چرته چې لائټ بَل وي“ آیا دا خبره صحیح ده؟

جواب: دا خبره مې چرته لوستلې یا اوریدلې نه ده، که چرې دا خبره اومنلے شي نو د ورځې هم بریښنا کیږي، خو راپریوځي نه! حالانکه د ورځې خو هر خوا رڼا وي، معلومه شوه چې دا سائنسي مسئله ده شرعي مسئله نه ده، البته دا تندر بعضې وخت په انسانانو باندې راپریوځي او ډیر خطرناک ثابتیږي، ځکه چې د دې په وجه ډیر خلق مره کیږي. الله کریم دې مونږ د ازمیښت نه محفوظ اوساتي. (ملفوظاتِ امیرِ اہلِ سنت، 447/7)

سوال: آيا د کوم نبي عَلَيْهِ السَّلَام په فيضان باندې څه چينه جاري شوې وه؟ د چينې د اوبو طبّي او سائنسي فائدے اوښائيئ.

جواب: بے شکه! زمونږ د خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د مبارکو ګوتو نه چينې جاري شوې وې.(7)

انګلیاں ہیں فیض پر ٹوٹے ہیں پیاسے جھوم کر ندیاں پنجابِ رحمت کی ہیں جاری واہ واہ

(حدائق بخشش، ص 134)

آبِ زَم زَم کومې چې مونږ څښو هغه هم د حضرت اسماعيل عَلَيْهِ السَّلَام د ښپو مبارکو د مږلو سره د راوتلې چينې اوبه دي. (مرآۃ المناجیح، 153/8) که زمکه يا غر شليدو سره اوبه را اوخوټکيږي نو هغې ته چينه وائي. د چينې اوبه د عامو اوبو نه مختلفې وي. د انټرنيټ په ذريعه چې کوم معلومات حاصل شوي دي هغه دا دي چې ❀ د چينې اوبه قدرتي طور يخې، صحت مندې، صفا ستهرا او ډيرې مزيدارې وي ❀ په دې کښې قدرتي طور د آکسيجن بهترين مقدار وي ❀ دا اوبه په وزن کښې د سپکيدو له وجهې زر هضميږي بلکه ❀ د هاضمے نظام بهتروي او د غټ والي [پيړوالي] امکانات کموي ❀ د چينې اوبه د وينې بهترينه صفائي کوي، د دې سره سره ❀ په

---

7... حضرت سالِم بن ابي جعد رضی اللهُ عنه د حضرتِ جابر بن عبدُ الله رضی اللهُ عنه نه روايت کوي چې د حديبيه په ورځ خلق تږي شول او د نبئ کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم مخې ته د څرمنې يوه خلته [تيلئ] وه او په هغې (کښې موجودو اوبو باندې) ئې اودس کولو. صحابَهٔ کرامو عَلَيْهِمُ الرِّضْوَان د حضور پُر نور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نه ګير چاپيره د حلقے په شکل کښې اودريدل نو هغوئي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اِرشاد اوفرمائيلو: څه خبره ده؟ صحابَهٔ کرامو عَلَيْهِمُ الرِّضْوَان عرض اوکړو: يا رَسُولَ الله ! زمونږ سره اوبه نشته چې مونږ پرې اودس اوکړو او اوئې څښو، صرف دغه اوبه دي کومې چې ستاسو مخې ته موجودې دي. حضورِ اَقدس صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم خپل لاس مبارک په هغه تيلئ کښې کيښودو نو د هغوئي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د مبارکو ګوتو نه اوبه د چينو په شان جوش وهل شروع کړو، بيا مونږ اوبه اوڅښلې او اودسونه مو پرې هم اوکړل. حضرتِ سالِم بن ابي جعد رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د حضرتِ جابِر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه پوښتنه اوکړه: تاسو هغه وخت ټول څومره کسان وئ؟ هغوئي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ اوفرمائيل: که مونږ يو لاکھ کسان هم وے نو هغه اوبه به زمونږ د پاره کافي وے، خو مونږ هغه وخت صرف 1500 [کسان] وو. (بخاری، 2/493 494، حدیث:3576)

دې کښې د معدنياتو صحيح مقدار وي ❀ د دې اوبو PH level زيات وي، يعنې دا اوبه د کم تيزابيت والا وي. نن سبا خلق په زرګونو روپو لګولو سره دا Alkaline water (يعنې د کم تيزابيت والا اوبه) اخلي، خو قدرت مونږ ته د چينې په ذريعه دا نعمت مفت عطا کړے دے ❀ د يو تحقيق مطابق هغه خلق کوم چې په څه نشه کښې اخته وي، هغوئي د زيات چائے او کافي څښلو په عادت کښې اخته وي هغوئي له ډاکټر د چينې د اوبو څښلو مشوره ورکوي، په دې ذريعه د دې څيزونو د عادت سره کافي کمے راتلے شي ❀ د چينې اوبه د خرمن د پاره هم بهترينې وي، ځکه چې دا صفا او سپکې وي، د دې نه خرمن ته ښه نمي ميلاويږي چې په دې وجه اِلرجي او خارښ وغيره کښې هم کمے راځي، د دې سره سره ❀ دا اوبه د خرمن داسې صفائي کوي کومې چې عامې اوبه نشي کولے ❀ د چينې اوبه د ويښتو د پاره هم فائده مندې وي، ځکه چې په دې کښې د مالګې مقدار زيات نه وي، د مالګې زيات مقدار د ويښتو دپاره نقصاني وي. (ملفوظاتِ امیر اہلِ سنت، 10/49)